عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۵/۰۸

# مقدس جهل ځنګه بنه مومي

افغانستان له سمندر ځخه لري و. انګريزانو د هرې ماتې و تېښتې پر مهال خپل مړي وړلای نه شول، هلته و دلته يې له ځینو مهمو اسنادو سره ښخول او بیا به يې د چم ګاونډ خلکو ته پیسې او سیکې ورکړې، د خپلو مکیاژ شویو جاسوسو ملنګانو او شېخانو په ژبه به يې اوازه ګډه کړه، چې دلته د پلاني ولي زيارت دی او هلته د پلاني پير قدمځای.
امير عبدالرحمان خان پر يو ځای ځان ته مانۍ جوړوله ( د ځای نوم مقدس جهل ته په درناوي نه ليکم، د اروابناد ابراهيم خليل کتاب پسې وګورئ) چا ورته وويل، دلته زيارت دی، خو امير سرزوري وکړه او د تاداو کيندنو امر يې وکړ.
دا مهال امير ته يو هيندوستاني طبيب او ځو انګريزان مېلمانه تلل راتلل.
بله ورځ ناځاپه امير حکم وکړ، چې کيندني ودروئ! او هلته پر زيارت توغونه لګ کړئ! ځکه امير په قبر کې پروت ولي په خوب ليدلی، چې اميرپه ځاپېره وهي او ورته وايي: ما مه پازابوه!
امير چې سهار راوېښ شوی ګوري، چې مخ يې تک سور دی...
دغه ځای اوس له مهمو زيارتونو ځخه دی. ماشوم وم، چې هلته مې د کابلي مېرمنو په ځانګړي سليقه پخه شوی د نذر خوږه حلوا خوړلې وه.
له اميرعبدالرحمانه ترنن زمانه ميليونونه افغانان باور لري، چې دا مقدس زيارت او په کې پروت مړی د خدای ولي دی .
ميليونونو خلکو په کې دعاګاني کړي، ژړلي يې دي، مراد يې غوښتي او خوردې يې ترې خوړلي دي، ګڼ ناروغان د علاج لپاره ورغلي دي، دولتونو د اوقافو له بودجې ځخه لګښتونه پرې کړي دي، يوه برخه مهمه قيمتي ځمکه ورته وقف شوې ده او درناوی يې د خلکو د ايمانونو برخه ده.
مقدس جهل د هغې کوشنۍ ډبرې په شان دی، چې له واورين غره ځخه رارغړي او واورين توپ (برفکوچ) ترې جوړيږي، چې د غره لمنې ته رارسيږي، نو غټه بلا ترې جوړه وي او کله کله له ځانه سره کلي، کورونه او ودانۍ هم نړوي.
مقدس جهل په اول کې ( يوچل، يو دروغ، يو سياست، يوه ګټه يا يو تصادف) وي، روسته ترې د خلکو د ايمان يوه لويه برخه جوړيږي.
هغوی چې پوهيږي، اصله کيسه ځه ده؟ (د خلکو اعتقاد ته درناوی) د اصل له مخې دوی هم تظاهر کوي، مانا؛ مقدس جهل د منافقت لامل هم دی. سياستوال يې په خوب ويني، د عبدالرحمان خان په شان پولادي امير په ځاپېره وهي، مقدس جهل د سياست د دروغو ريښه ده.
دا يې يوه وړه بېلګه ده.
زموږ ژوند، ټولنه، سياست او ټولنيز تعاملات له زرګونو داسې کيسو ډک دي، موږ د مقدسو جهالتونو بلهاريان يو .
ما ډېر هوښياران ليدلي، چې ويل يې:
د خلکو د هرې عقيدې درناوی وکړئ! دا د سياست اصل دی.
هو د خلکو د مقدسو جهالتونو درناوی وکړئ، پاپيوليستي سياست يعنې همدا!
دروغ ووايئ، تظاهر وکړئ، منافقت وکړئ، چې د خلکو افيوني باورونه زيان ونه ويني او هيڅکله ولس راويښ نه شي.
د ولس راويښېدل د سياستوال لپاره ګواښ دی، ځکه خو هغوی چې د ولسونو د ويښتيا هڅې کوي، ښه سياستوال نه بلل کيږي، تکفيريږي.
له نورو سره په مقدس جهل کې ورګډ شئ، تر ټولو بريالی سياستوال به یاست!
مقدس جهل يعنې همدا!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ